AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۴/۲۸

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۰)




خامه سړک لړ لړ نیغیده او بیا د همدې سړک په وروستۍ او لوړه برخه کې لویه دروازه لګیدلې وه او دا زموږ د پوهنتون د مرکزي لیلیې ورودي، ور و. کیڼ اړخ ته یې د لیلیې جامع جومات او ښي اړخ ته یې بلاکونه ول. دا بلاکونه داسې جوړ شوي ول لکه د کوماندویي ځواکونو قاغوشونه چې وي. د دروازې ښي اړخ ته یوه امنیتي پوسته وه. چې ځنګه به د ماسخوتن له جمعي راووتلو؛ د همدې پوستې مخې ته به راغونډ شوو. د پوستې مخې ته پر یوه لرګین زاړه میز غټ ټایپ ایښي و، د دې ټیپ په راډیو به مو د بي بي سي پښتو خبري سرویس د کمزورو څپو له وجهې په ډیر مشکل اوریده. له دې څپو مو د واک په سر په روانه جګړه کې د هره شیبه سوزیدوونکي تاریخي کابل خبرونه اوریدل. خبرونه به کله د راکټونو په مرګونو اوازونو، کله د خلکو په چیغو او کله د امبولانس په ویرونکیو غږونو پیلیدل. دا هر څه عادي خبره وه؛ خو مشکل د خبري سرویس له پیل مخکې د نشریدونکې لنډې نغمې (زیګنال) و. دا به یې ژر ګل کړه چې خامخا په اوریدو یې د ګناه له پیټي لاندې په ملا مات نشوو. ځینې وخت خو به د نغمې د ګل کیدو په وقفه کې د کوم مهم خبر سرټکی هم تیر شوی و.

د کومې شپې په خبري سرویس کې چې به د بې دفاع قتل شویو ښاریانو شمیره د ۱۰- ۲۰ په شاوخوا کې اعلان شوه؛ نو داسې به مو ګڼله چې نن ورځ په کابل ښاریانو په خیریت تیره شوې .

په همدغسې وخت کې د اتحاد اسلامي مشر پروفیسر استاد سیاف جلوزو کیمپ ته خپل کور ته راغلی و. له محصلینو سره یې یوه ناسته ترتیب کړې وه چې د محصلینو په ډله کې زه هم وم. موږ په موټرو کې له تدریسي ځانګې څخه فامیلیو ته، یوه لوی کورته چې ستر سالون یې درلوده، ولیږدول شوو. استاد ستیج ته را ورسیده. له خبرو مخکې یې وویل چې خپلې پوښتنې مو یاداښت کړئ او په اخره کې یې مطرح کړئ. ما او ځینو نورو ګڼې پوښتنې نوټ کړې؛ خو استاد داسې معلومات ورکړل او په داسې انداز یې بیان کړل چې ټولې پوښتنې مو ځواب شوې. استاد، د خپل تنظیم د اقتصادي وضعیت په اړه هم اندیښنه وښوده؛ خو زیاته یې کړه چې کچکول به غاړې ته واچوي او پوهنتون به بندیدو ته پرینږدي .

استاد، د مزاري تر مشرۍ د حزب وحدت د ګوند جنایتونه تشریح کړل؛ هغه ګوند چې د بې دفاع ښاریانو د تعذیب او وژنو نوې طریقې یې اختراع کړې وې. د سینو پرې کول، په سرونو کې میخونه ټک وهل، د ژبو پرېکول، له سر پرېکولو وروسته په مرۍ جوش تیل اچول او په دې توګه د مړو د نڅا ننداره وړاندې کول او ....

استاد دا هم وویل چې څو ځلې یې د دې ګوند کسان ګیر کړي چې د خپلو وحشتونو ویډیوي کسیټې یې ځان سره ایران ته وړلې .

ممکن هلته یې خپلو بادارانو ته د کارنامو ثبوتونه وړاندې کول او خپله اجوره یې ترې ترلاسه کوله. خو استاد د خپلې ډلې د کارنامو په اړه څه ونه ویل. شاید هغوی عاجزان به ټول په نیکه لاره روان ول .

استاد، اخره کې موسک شو او بیا یې د طب محصلانو ته په خطاب کې وویل: اوس خو تاسو ته نور څه خذمت نشم کولای؛ خو که په مړو تجربې کوئ چې د وحدت ګوند د جګړه مارو جسدونه در ولیږم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ